# د افغانستان اسلامي امارت

# اساسي اصول

(مسوده)

۱۴۴۳هـ ق- ۱۴۰۰هـ ش

Watsapp: +93748577172

بسم الله الرحمن الرحیم

Watsapp: +93748577172

## لړلیک

سرلیکونه مخ


د افغانستان اسلامي امارت اساسي اصول ........ 1
مسوده ........ 1
سریزه ........ 1

لومړی فصل

امارت/دولت

لومړۍ ماده ........ 1
دویمه ماده ........ 1
درېیمه ماده ........ 2
څلورمه ماده ........ 2
پنځمه ماده ........ 2
شپږمه ماده ........ 2
اوومه ماده ........ 2
اتمه ماده ........ 2
نهمه ماده ........ 3
لسمه ماده ........ 3
یوولسمه ماده ........ 3
دولسمه ماده ........ 3
دیارلسمه ماده ........ 4
څوارلسمه ماده ........ 4
پنځه لسمه ماده ........ 4
شپاړلسمه ماده ........ 4
اوولسمه ماده ........ 4
اتلسمه ماده ........ 4
نولسمه ماده ........ 5

شلمه ماده ........ 5
یویشتمه ماده ........ 5
دوه ویشتمه ماده ........ 5
دري ویشتمه ماده ........ 5
څلور ویشتمه ماده ........ 5
پنځه ویشتمه ماده ........ 6
شپږ ویشتمه ماده ........ 6
اووه ویشتمه ماده ........ 6
اته ویشتمه ماده ........ 6
نهه ویشتمه ماده ........ 6
دېرشمه ماده ........ 6
یو دېرشمه ماده ........ 6

دویم فصل

د اتباعو اساسي حقوق او وجایب

دوه دېرشمه ماده ........ 7
دري دېرشمه ماده ........ 7
څلور دېرشمه ماده ........ 7
پنځه دېرشمه ماده ........ 7
شپږ دېرشمه ماده ........ 7
اووه دېرشمه ماده ........ 8
اته دېرشمه ماده ........ 8
نهه دېرشمه ماده ........ 8
څلوېښتمه ماده ........ 8
یو څلوېښتمه ماده ........ 8
دوه څلوېښتمه ماده ........ 9
دري څلوېښتمه ماده ........ 9

څلور څلوېښتمه ماده ........................................................................ 9
پنځه څلوېښتمه ماده ........................................................................ 9
شپږ څلوېښتمه ماده ........................................................................ 9
اووه څلوېښتمه ماده ........................................................................ 9
اته څلوېښتمه ماده........................................................................10
نهه څلوېښتمه ماده ........................................................................10
پنځوسمه ماده ........................................................................10
یو پنځوسمه ماده........................................................................10
دوه پنځوسمه ماده ........................................................................11
دري پنځوسمه ماده........................................................................11
څلور پنځوسمه ماده ........................................................................11
پنځه پنځوسمه ماده........................................................................11
شپږ پنځوسمه ماده ........................................................................11
اووه پنځوسمه ماده........................................................................11
اته پنځوسمه ماده ........................................................................12
نهه پنځوسمه ماده........................................................................12
شپېتمه ماده........................................................................12
یو شپېتمه ماده ........................................................................12
دوه شپېتمه ماده ........................................................................13
دري شپېتمه ماده........................................................................13
څلور شپېتمه ماده ........................................................................13
پنځه شپېتمه ماده........................................................................13
شپږ شپېتمه ماده........................................................................13
اووه شپېتمه ماده ........................................................................14
اته شپېتمه ماده ........................................................................14
نهه شپېتمه ماده........................................................................14

اویا یمه ماده ........................................................................ 14
یو اویا یمه ماده ..................................................................... 14
دوه اویا یمه ماده .................................................................... 14
درې اویا یمه ماده .................................................................... 15
څلور اویا یمه ماده ................................................................... 15
پنځه اویا یمه ماده ................................................................... 15
شپږ اویا یمه ماده .................................................................... 15
اووه اویا یمه ماده .................................................................... 15
اته اویا یمه ماده ..................................................................... 15
نهه اویا یمه ماده .................................................................... 16

دریيم فصل

د اسلامي فقهاوو عالي شورا

اتیا یمه ماده ........................................................................ 16
یو اتیا یمه ماده ..................................................................... 16
دوه اتیا یمه ماده .................................................................... 16
درې اتیا یمه ماده .................................................................... 16
څلور اتیا یمه ماده ................................................................... 17
پنځه اتیا یمه ماده ................................................................... 18
شپږ اتیا یمه ماده .................................................................... 18
اووه اتیا یمه ماده .................................................................... 18

څلورم فصل

ولسمشر

اته اتیا یمه ماده ..................................................................... 19
نهه اتیا یمه ماده .................................................................... 19
نوي یمه ماده ........................................................................ 19
یو نوي یمه ماده ..................................................................... 19

دوه نوي يمه ماده ............ 19
درې نوي يمه ماده ............ 20
څلور نوي يمه ماده ............ 20
پنځه نوي يمه ماده ............ 20
شپږ نوي يمه ماده ............ 21
اووه نوي يمه ماده ............ 21
اته نوي يمه ماده ............ 22
نهه نوي يمه ماده ............ 22

## پنځم فصل
## عالي شورا

سلمه ماده ............ 22
يو سلو يومه ماده ............ 22
يو سلو دويمه ماده ............ 23
يو سلو دريیمه ماده ............ 23
يو سلو څلورمه ماده ............ 23

## شپږم فصل
## حکومت

يو سلو پنځمه ماده ............ 24
يو سلو شپږمه ماده ............ 24
يو سلو اوومه ماده ............ 24
يو سلو اتمه ماده ............ 24
يو سلو نهمه ماده ............ 25
يو سلو لسمه ماده ............ 25
يو سلو يوولسمه ماده ............ 25
يو سلو دولسمه ماده ............ 26
يو سلو ديارلسمه ماده ............ 26

یو سلو څوارلسمه ماده ........................................................................26

اووم فصل

ملي شورا

یو سلو شپاړلسمه ماده ........................................................................26
یو سلو اووه لسمه ماده ........................................................................27
یو سلو اته لسمه ماده........................................................................27
یو سلو نولسمه ماده ........................................................................27
یو سلو شلمه ماده ........................................................................27
یو سلو یو ویشتمه ماده ........................................................................27
یو سلو دوه ویشتمه ماده ........................................................................28
یو سلو درې ویشتمه ماده........................................................................28
یو سلو څلور ویشتمه ماده ........................................................................28
یو سلو پنځه ویشتمه ماده........................................................................29
یو سلو شپږ ویشتمه ماده........................................................................29
یو سلو اووه ویشتمه ماده ........................................................................29
یو سلو اته ویشتمه ماده ........................................................................30
یو سلو نهه ویشتمه ماده ........................................................................30
یو سلو دېرشمه ماده........................................................................30
یو سلو یو دېرشمه ماده ........................................................................30
یو سلو دوه دېرشمه ماده ........................................................................31
یو سلو درې دېرشمه ماده........................................................................31
یو سلو څلور دېرشمه ماده ........................................................................31
یو سلو پنځه دېرشمه ماده........................................................................31

اتم فصل

قضاء

یو سلو شپږ دېرشمه ماده........................................................................31

یو سلو اووه دېرشمه ماده ....................................................................32
یو سلو اته دېرشمه ماده ....................................................................32
یو سلو نهه دېرشمه ماده ....................................................................32
یو سلو څلوېښتمه ماده ....................................................................32
یو سلو یو څلوېښتمه ماده....................................................................33
یو سلو دوه څلوېښتمه ماده ....................................................................33
یو سلو درې څلوېښتمه ماده....................................................................33
یو سلو څلور څلوېښتمه ماده ....................................................................33
یو سلو پنځه څلوېښتمه ماده....................................................................33
یو سلو شپږ څلوېښتمه ماده....................................................................33
یو سلو اووه څلوېښتمه ماده ....................................................................34
یو سلو اته څلوېښتمه ماده ....................................................................34
یو سلو نهه څلوېښتمه ماده....................................................................34
یو سلو پنځوسمه ماده....................................................................34
یو سلو یو پنځوسمه ماده ....................................................................34
یو سلو دوه پنځوسمه ماده....................................................................35
یو سلو درې پنځوسمه ماده ....................................................................35
یو سلو څلور پنځوسمه ماده....................................................................35
یو سلو پنځه پنځوسمه ماده ....................................................................35
یو سلو شپږ پنځوسمه ماده ....................................................................35

نهم فصل

اداره

یو سلو اووه پنځوسمه ماده ....................................................................35
یو سلو اته پنځوسمه ماده....................................................................36
یو سلو نهه پنځوسمه ماده ....................................................................36
یو سلو شپېتمه ماده ....................................................................36

يو سلو يو شپېتمه ماده ........................................................................36
يو سلو دوه شپېتمه ماده........................................................................36
يو سلو درې شپېتمه ماده ........................................................................37

لسم فصل

اضطراري حالات

يو سلو څلور شپېتمه ماده........................................................................37
يو سلو پنځه شپېتمه ماده ........................................................................37
يو سلو شپږ شپېتمه ماده ........................................................................37

يوولسم فصل

تعديل

يو سلو اوه شپېتمه ماده ........................................................................38
يو سلو اته شپېتمه ماده........................................................................38

دولسم فصل

متفرقه احكام

يو سلو نهه شپېتمه ماده ........................................................................38
يو سلو اويا يمه ماده ........................................................................38
يو سلو دوه اويا يمه ماده ........................................................................38
يو سلو درې اويا يمه ماده ........................................................................39
يو سلو څلور اويا يمه ماده ........................................................................39
يو سلو پنځه اويا يمه ماده ........................................................................39
يو سلو شپږ اويا يمه ماده ........................................................................39
يو سلو اووه اويا يمه ماده........................................................................39
يو سلو اته اويا يمه ماده........................................................................39
يو سلو نهه اويا يمه ماده ........................................................................40

## د افغانستان اسلامي امارت اساسي اصول

## مسوده

### سریزه

د افغانستان اسلامي امارت مرحوم زعیم او امیر المؤمنین عالیقدر ملا محمد عمر مجاهد چې د هېواد د علماوو او روحانیونو د بیعت په اساس تاکل شوی و، چې په هېواد کې د ظلم، بې عدالتیو، شر او فساد له منځه وړلو او هم د بهرنیو یرغلگرو په وړاندې د برحقه جهاد د فریضې د اداء کولو، د هېواد د خپلواکۍ د لاسته راوړلو په موخه د یو اسلامي شرعي نظام د راتگ لپاره بنسټ کېښوده.

د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد او د اسلامي انقلاب د شهیدانو، د کونډو، یتیمانو او د افغان مجاهد ولس د ارمانونو او هیلو د پوره کولو او هم په نړۍ کې د افغانستان د اسلامي امارت لپاره د وړ ځای د تثبیت په هدف د افغانستان د اسلامي امارت زعیم او امیر شیخ هیبت الله اخندزاده سره د هېواد د خپلواکۍ، ارضي تمامیت، شرعي حاکمیت په هدف د کابل په ښار کې د گران هېواد د ولسونو د استازو له خوا بیعت وشو او هم د افغانستان د اسلامي امارت اساسي اصول په ۱۴۰۰ نېټه باندې تصویب کړ.

## لومړی فصل

## امارت/دولت

### لومړی ماده

افغانستان یو خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي امارت/دولت دی.

### دویمه ماده

د افغانستان د خلکو دین د اسلام مبارک دین دی، د ژوند په ټولو چارو کې لارښود او د هېواد د ټولو قوانینو او سیاستونو یواځینی سرچینه ده، رسمي مذهب یې حنفي فقه ده.

د نورو ادیانو او مذاهبو پیروان د خپلو دیني مراسمو په تر سره کولو کې د اسلامي شریعت د حکمونو په حدودو کې ازادي لري.

**دریيمه ماده**

په افغانستان کې حاکمیت په الله تعالی پورې مختص دی، انسان د الله تعالی خلیفه او امارت ددې خلافت ممثل او د ولس نائب دی، په هېواد کې د نظام بنسټ مشروعیت بیعت او رأیه ده.

**څلورمه ماده**

د افغانستان ملت هغه دی چې د افغانستان تابعیت ولري هېڅ یو هېوادوال د تابعیت حق څخه سلب کېدای نه شي، د تابعیت او پناه ورکولو پورې اړوندې چارې د قانون له لارې تنظیمېږي.

**پنځمه ماده**

د هېواد هېڅ یوه تبعه خارجي دولت ته نه سپارل کېږي.

**شپږمه ماده**

د امارت/دولت اساسي دندې عبارت دي له: د اسلامي شریعت د احکامو او حدودو تطبیق او نفاذ، د قوانینو او مقرراتو تطبیق، ملي واکمني، استقلال، امنیت او د دفاعي قابلیتونو تأمین او تقویه، ټولنیز عدالت او ملي وحدت تأمین، ټول ملت هوساینې لپاره د ترقۍ متوازن شرایط برابرول او هېوادوالو ته خدمت او د انساني کرامت او حقوقو ساتنه.

**اوومه ماده**

د هېواد مروجه ژبو څخه پښتو او دري رسمي ژبې دي، پښتو د هېواد ملي ژبه ده، د مروجه ژبو د ودې لپاره امارت/دولت اغېزمن او مناسب شرایط برابروي، په هېواد کې د رسنیو خپرونې او چاپ په ټولو مروجو ژبو سره آزادې دي.

**اتمه ماده**

د افغانستان اسلامي امارت ټولو هغو نړیوالو معاهدو او میثاقونو، د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې او د ملګرو ملتونو منشور ته د اسلامي شریعت د احکامو مطابق درناوی کوي، په دې شرط چې د اسلامي اساساتو سره په ټکر کې نه وي، د سولې د ټینګښت او د بین المللي همکاریو د پراختیا په بناء د ملګرو ملتونو د سازمان د فعالیتونو ملاتړ هم د مخکیني شرط په اساس کوي.

**نهمه ماده**

اسلامي امارت بهرنی سیاست او پالیسي په اسلامي اصولو ولاړ، د هېواد په ګټه، فعال او مؤثر شرعي سیاست غوره کوي، د مظلوم د حق نه دفاع او مرسته، د بهرني یرغل غندنه کوي، دا چې د نړۍ ټول خلك د یوې لویې کورنۍ عضوې په حیث ګڼل کېږي؛ د نړۍ ټولو هېوادونو په ځانګړي ډول اسلامي او ګاونډیو هېوادونو او ملتونو سره د دوستانه مناسباتو د ساتنې او ټینګښت لپاره ملي استقلال، ملي حاکمیت، او ځمکنۍ بشپړتیا ته متقابل احترام، او د یو بل په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کول؛ په ټینګه رعایت کوي او د سولې، ازادۍ، ترقۍ او د دوی په منځ کې د مرستې لپاره هڅه کوي. د افغانستان اسلامي امارت د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې له ناروا لاسوهنو څخه ډډه کوي او بالمقابل نورو ته د هېڅ ډول مداخلې اجازه نه ورکوي او بالمثل چلند خپل حق ګڼي.

**لسمه ماده**

اسلامي امارت په سیمه کې د ګاونډیو هېوادونو سره د ټولو ناحل شوو موجودو مسایلو عادلانه او سولییز حل لپاره نېکه اراده لري او سولییزه ګډ ژوند د اصولو په اساس زیار باسي.
بین المللي ستونزې د اسلامي شرعي احکامو په رڼا کې حل کول، د افغانستان د اسلامي امارت د بهرني سیاست اصل دی.

**یوولسمه ماده**

د اسلامي انقلاب هغه سرتېري چې د افغان مجاهد ولس په خاوره باندې د بهرنیانو د تجاوز د لومړۍ ورځې څخه د اسلامي انقلاب د بریالیتوب او د هېواد د خپلواکۍ او آزادۍ تر ورځې پورې برخه اخیستې ده، په راتلونکې کې د اسلامي انقلاب او د هېواد د ګټو او منافعو څخه ساتنه کوي او هم د افغان ملي پوځ د هېواد د استقلال، ارضي تمامیت، د ملي یووالي او شرعي حاکمیت په اړه خپلې کاري دندې او مسؤلیتونه اجراء کوي.

**دولسمه ماده**

د اسلامي انقلاب د لښکر سرتېرو حقوق او مسؤولیتونه په ځانګړي قانون کې روښانه کېږي.

**دیارلسمه ماده**

د اسلامي لښکر د سرتېرو، ملي پوځ، نظامي وسايلو او تجهيزاتو څخه شخصي ګټه اخيستنه ممنوع ده.

**څوارلسمه ماده**

د افغانستان اسلامي امارت مؤظف دی چې د اسلامي شريعت د احکامو مطابق د اسلامي لښکر سرتېرو او ملي پوځ د عقيدتي او مسلکي پياوړتيا په موخه پوهاوی وکړي، تر څو د اسلامي انقلاب د لاسته راوړنو او د هېواد د خپلواکۍ او خاورې تماميت څخه په کلکه دفاع وشي.

**پنځه لسمه ماده**

تر ځمکې لاندې منابع، ځنګلونه، کانونه، څړ ځايونه، تاريخي ابدات، بانکونه او نور عامه تأسيسات د دولت ملکيت دی، د هغې څخه د سمې استفادې ډول د اړوندو قوانينو له لارې تنظيمېږي.

**شپاړلسمه ماده**

د هېواد اقتصادي استقلال تضمين، د فقر له منځه وړل او د خلکو اساسي ضرورتونو تأمين د اسلام اقتصادي نظام پر بنسټ ولاړ دی.

**اوولسمه ماده**

اسلامي امارت/دولت خصوصي پانګه اچونه او خصوصي تشبثات د اسلامي اقتصادي نظام د احکامو سره سم هڅوي، ملاتړ او مصؤنيت يې کوي، ملي پانګې اچونکو ته د کار ټول اړين شرايط او تسهيلات برابروي، تر څو ملي او بهرنيو شرکتونو سره سالم رقابت وکړي، په کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ پورې تړلې چارې د هېواد د اقتصادي غوښتنو او د خلکو د ګټو سره سمې د قانون له لارې تنظيمېږي.

**اتلسمه ماده**

د بازار انحصار او احتکار منع دی، نورې اړوندې چارې د قانون له لارې تنظيمېږي.

**نولسمه ماده**

د افغانستان بانک د امارت/دولت مرکزي خپلواک بانک دی، د پیسو نشرول، د هېواد د پولي سیاست طرح او تطبیق په اسلامي اقتصادي نظام باندې ولاړ دی، چې ددې قانون د حکمونو مطابق تر سره کېږي، اړوندې چارې د قانون له لارې تنظیمېږي.

د افغانستان ټول بانکي سیستم د اسلامي شریعت د احکامو له مخې د شرایطو او حالاتو مطابق عیارېږي.

**شلمه ماده**

اسلامي امارت/دولت د صنایعو د پراختیا د تولید د ودې او د خلکو د اقتصادي او اجتماعي ژوند د سطحې لوړتیا او د کسبگرو کار د ملاتړ لپاره اغېزمن پروگرامونه او تدابیر نیسي.

**یویشتمه ماده**

اسلامي امارت/دولت د زراعت او مالدارۍ د پراختیا، د بزگرانو او مالدارانو د اقتصادي، اجتماعي او د ژوند شرایطو د ښه کولو او د کوچیانو او مالدارانو لپاره د مېشت او څړ ځایونو د استفادې او سمون امکانات له قانون سره سم تضمینوي.

**دوه ویشتمه ماده**

اسلامي امارت/دولت مستحقو اتباعو ته د اوسېدو ځای د برابرولو په منظور او د عامه ملکیتونو د تقسیم لپاره د قانون د حکمونو سره سم او د مالي امکاناتو په چوکاټ کې لازم تدابیر نیسي.

**دري ویشتمه ماده**

اسلامي امارت/دولت ژمن دی چې د شرعي علومو او دیني زده کړو د پرمختیا او دیني مدارسو د تأسیس او تنظیم لپاره د هېواد په گوټ گوټ کې لازم تدابیر ونیسي.

**څلور ویشتمه ماده**

اسلامي امارت/ دولت د تعلیم او تربیې انکشاف او د تعلیمي مراکزو د ودې او پالنې لپاره اړین شرایط برابروي، د اسلامي شریعت پر بنسټ د اوسنیو شرایطو مطابق واحد تعلیمي او تحصیلي نصاب چمتو کوي.

**پنځه ویشتمه ماده**

د قران کریم او اسلامي علومو ژبه عربي ده، په دې بنیاد د ابتدایي زده کړو څخه وروسته د ثانوي دورې تر پایه پورې په ښوونځیو کې تدریسیږي.

**شپږ ویشتمه ماده**

د هېواد رسمي کلېزې بنسټ د محمد رسول الله ﷺ پر هجرت ولاړ دی، هجري قمري او هجري شمسي دواړه معتبر دي، د امارتي/دولتي ادارو د کار بنسټ په هجري قمري کال دی.

**اووه ویشتمه ماده**

د جمعې، د دوو اخترونو ورځې د انګرېزي، روسي او امریکایي ښکېلاکګرو څخه د خپلواکۍ ورځې، عمومي رخصتي وي، نورې رخصتۍ د قانون له لارې تنظیمیږي.

**اته ویشتمه ماده**

په افغانستان کې حرام او نشه یي توکي چې انسان ته زیان رسوي، هر راز تولید، سوداګري، اخیستل او خرڅول منع دي.

**نهه ویشتمه ماده**

د افغانستان بیرغ سپین رنګ لري، سور یې د اوږدوالي نیمایي دی، په منځ کې یې د [لااله الا الله محمد رسول الله] مبارکه کلیمه او په پورتنۍ برخه کې یې د افغانستان د اسلامي امارت ملي نښان کښل شوی دی.

**دېرشمه ماده**

د افغانستان ملي سرود په پښتو ژبه دی چې اړوندې چارې یې د ځانګړي قانون له لارې تنظیمیږي.

**یو دېرشمه ماده**

د افغانستان پایتخت د کابل ښار دی.

## دویم فصل

## د اتباعو اساسي حقوق او وجايب

### دوه دېرشمه ماده

د افغانستان ټول اتباع د هر راز تبعیض پرته د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري، ښځې او نارینه یو شانته د اسلامي اصولو مطابق د قانون تر چتر لاندې دي، له ټولو انساني، سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حقوقو څخه د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې برخمن دي.

### دري دېرشمه ماده

د ښځو د مادي او معنوي حقوقو د احیاء او د هغوی د شخصیت د لوړولو او په ټولنه کې د ښکلي مقام د تر لاسه کولو لپاره امارت/دولت د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې لازم شرایط برابروي، د کورنۍ د بقاء او دوام لپاره مناسب تدابیر نیسي او له کونډو، زړو او بې متکفلو ښځو سره مناسبو مرستو په کولو مکلف دی.

### څلور دېرشمه ماده

ژوند د الله ﷻ پېرزوینه ده او د انسان طبیعي حق دی، هېڅوك له شرعي او قانوني احکامو پرته له دې حق څخه څوك بې برخې کولای نه شي.

### پنځه دېرشمه ماده

ازادي او کرامت انسان ته الله تعالی ورکړی دی چې د اسلامي شریعت د احکامو مطابق د هر راز تېري څخه خوندي دی.

### شپږ دېرشمه ماده

اسلامي امارت/دولت خلکو ته د اسلامي شریعت د احکامو مطابق د بیان ازادي، د کار او کسب د ټاکنې آزادي او د اوسېدو ځای د غوره کولو ازادي تضمینوي.
دا ازادي یوازې هغه وخت محدودېږي چې د نورو له حقوقو او عامه مصالحو سره ټکر وکړي، امارت/دولت د انسان د ازادۍ او کرامت په درناوۍ او ساتلو مکلف دی.

**اووه دېرشمه ماده**

د اسلامي شريعت او قانون له مخې هر انسان تر هغې پورې برى الذمه دى، تر څو چې د با صلاحيته شرعي محکمې په قطعي حکم محکوم عليه ونه ګرځي، بې ګناه او د ذمې برأت يې اصلي حالت ګڼل کېږي.

**اته دېرشمه ماده**

جرم يو شخصي عمل دى، د متهم تعقيبول، نيول، توقيفول او پر هغه باندې د جزاء تطبيق بل هېڅا ته سرايت نه کوي او هر څوک د خپل ښه او بد عمل د اجراء مسؤليت لري او هېڅوک د بل په جرم او ګناه نه نيول کېږي. د متهم تعقيب، تجسس، تحقيق، تفتيش، نيونه، توقيف او مجازات د اسلامي شريعت او قانون پرته نشي تر سره کېداى، هېڅا ته سزاء نه شي ورکول کېداى، مګر د با صلاحيته شرعي محکمې په حکم او د هغه قانون د احکامو سره سم چې د اتهام وړ عمل تر ارتکابه مخکې نافذ شوى وي.

**نهه دېرشمه ماده**

هېڅ يو عمل جرم نه ګڼل کېږي، مګر د اسلامي شريعت او د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب تر مخه نافذ شوى وي.

**څلوېښتمه ماده**

د متهم هغه اعتراف چې د با صلاحيته محکمې او معتبرو شاهدانو په حضور کې پخپله خوښه، د عقلي روغتيا په حالت کې بې له کوم ګواښ او وېرې، په زور، تطميع او بې له تعذيب څخه تر لاسه شوى وي، د اعتبار وړ دى. په زور تر لاسه شوې څرګندونې، اقرار يا شهادت چې له متهم يا بل شخص څخه تر لاسه شي اعتبار نه لري.

**يو څلوېښتمه ماده**

د انساني کرامت او د اسلامي شريعت د احکامو مخالف جزاء تاکل منع دى.

**دوه څلوېښتمه ماده**

هر څوک کولای شي چې د نیول کېدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او یا د حق د اثبات لپاره مدافع وکیل وټاکي، متهم حق لري چې له نیول کېدو سره سم له منسوب اتهام څخه اطلاع حاصله کړي او په ټاکلې مودې کې محکمې ته حاضر کړی شي، د بې وزله متهم لپاره امارت/دولت مدافع وکیل ټاکي، د مدافع وکیلانو دندې او واکونه د قانون له لارې تنظیمېږي.

**دري څلوېښتمه ماده**

هغه متهم چې د محکمې په حکم بري الذمه ثابت شي د خپل حیثیت د اعادې او د مالي خسارې د جبران حق لري، محکمه به د برأت د اعلان تر څنګ د خسارې د ورکړې فیصله هم کوي.

**څلور څلوېښتمه ماده**

پور د پورورې د آزادۍ د سلبېدو یا محدودېدو سبب نه شي کېدای، د پور د بېرته اخیستلو لارې چارې او وسایل د قانون له مخې تنظیمېږي.

**پنځه څلوېښتمه ماده**

د اسلامي شریعت د احکامو مطابق مطبوعات او خپروني د مطالبو د بیان آزادي لري، د مطبعو، راډیو، تلویزیون، مطبوعاتو او نورو ډله ایزو رسنیو پورې اړوند احکام د قانون له لارې تنظیمېږي.

**شپږ څلوېښتمه ماده**

د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مشروع حقونو، غوښتنو او مقاصدو د تر لاسه کولو لپاره بې وسلې، سوليېزې غونډې او مظاهرې د ټاکلي قانون مطابق وکړي، امارت/دولت مکلف دی چې د غونډو او مظاهرو امنیت تأمین کړي، د غونډو او مظاهرو اړوندې چارې د قانون له لارې تنظیمېږي.

**اووه څلوېښتمه ماده**

د اشخاصو تجسس د اسلامي شریعت او قانون ضد عمل دی، هېڅوک حق نه لري چې د بل چا مراسلات، مخابرات، لیکونه او تیلیفونونه واوري او وڅاري، امارت/دولت د هغو پېژندل شوو جنایت کارو ډلو د مخنیوي او تعقیب لپاره یوازې د اسلامي شریعت او د با صلاحیته محکمې د پرېکړې په اساس څارلی شي، نورې چارې د قانون له لارې تنظیمېږي.

**اته څلوېښتمه ماده**

د شخص د اوسېدو ځای د تېري څخه خوندي دی هېچاته د دولتي ادارو او چارواکو په شمول د استوګن له اجازې او يا د واکمنې شرعي محکمې د حکم پرته کور ته ننوتل او يا هم پلټل منع دي، د مشهود جرم په حالت کې د جنايت د مخنيوي او د شخص نيونې په اړه د با صلاحيته محکمې حکم اړين نه دی، مسؤل مامور مکلف دی کور ته د ننوتلو يا پلټنې وروسته په هغه لنډه موده کې چې قانون يې ټاکي د با صلاحيته محکمې پرېکړه تر لاسه کړي.

**نهه څلوېښتمه ماده**

هر افغان حق لري چې د هغو سيمو پرته چې قانون منع کړي وي، د هېواد دننه هر ګوټ ته سفر وکړي او استوګنه غوره کړي، د قانون د حکمونو سره سم هر افغان حق لري چې بهر ته سفر وکړي او بېرته راستون شي، امارت/دولت هېواد څخه د بهر مېشتو افغاني اتباعو د حقوقو ساتنه کوي.

**پنځوسمه ماده**

په اسلامي نظام کې غريب او نيستمن خلك د مالدارو په شتمنيو کې ثابت حق لري، ددې حق د تر لاسه کول او سپارل د امارت/دولت دنده ده، امارت/دولت د افغانانو ستونزو د حلولو متکفل دی او داسې ماليه او محصول نه شي وضع کولی چې د نيستمنو د طاقت او وسې څخه پورته وي.

**يو پنځوسمه ماده**

مشروع او قانوني ملکيت له تېري څخه مصؤن دی، هېڅوك له مشروع لارو ملکيت د تر لاسه کولو او په هغه کې له تصرف کولو څخه نه شي منع کولی، مګر د با صلاحيته محکمې او اړوند قانون له مخې، د قانون د حکم او با صلاحيته محکمې د حکم پرته د هېچا ملکيت نه مصادره کېږي، د شخص د ملکيت استملاك يوازې د عامه ګټو د تأمين په هدف د مخکيني او عادلانه بدل او عوض په ورکولو، د قانون له مخې مجاز دي، د اشخاصو د شتمنيو پلټنه او اعلان يوازې د قانون په حکم کېدای شي، نورې چارې د قانون له لارې تنظيمېږي.

**دوه پنځوسمه ماده**

هر ځمکه وال او شتمن مکلف دی؛ چې د دولت له اړوندو ادارو سره خپله شتمنۍ او ملکیت ثبت کړي.

**دري پنځوسمه ماده**

بهرني اشخاص په افغانستان کې د عقاري اموالو د تمليك حق نه لري؛ د بهرنيانو له لوري د عقار، اجارې، د پانګې اچونې په منظور د قانون د احکامو سره سم جواز لري، د بهرنيو هېوادونو، سياسي دفترونو او نماینده ګیو او هم هغو بین المللي مؤسساتو باندې چې افغانستان پکې غړيتوب لري، د عقار مالونو پلورل د ځمکې په بدل کې د قانون د حکمونو سره سم جواز لري.

**څلور پنځوسمه ماده**

هر شتمن افغان مکلف دی چې دولت ته د خپلې شتمنۍ زکات او د ځمکې د حاصلاتو عُشر ورکړي، نورې اړوندې چارې د قانون له لارې تنظیمېږي.

**پنځه پنځوسمه ماده**

هېڅ ډول غير قانوني ماليه او محصول نه شي وضع کېدای.

**شپږ پنځوسمه ماده**

هر افغان او بهرني حقیقي او حکمي اشخاص مکلف دي چې د قانون د احکامو مطابق اسلامي امارت/دولت ته محصول او ماليه ورکړي، د ماليې او محصول اندازه او د ورکړې ډول يې د اجتماعي عدالت په رعايت سره د قانون په وسيله تصريح کېږي، ټول تأديه شوي ماليه، محصول او عايدات دولتي واحد حساب ته تحويلېږي.

**اووه پنځوسمه ماده**

د اسلامي شريعت د احکامو په رڼا کې زده کړه د ټولو ښځینه او نارینه اتباعو حق دی؛ چې د ثانوي دورې تر پايه پورې او نادارو زده کونکو ته د لېسانس مرحلې تر پايه د وړيا تعليم ضروري تسهيلات د امارت/دولت له لوري تأمينېږي او مکلفيت لري چې د هېواد په ټولو سيمو کې د متوازن معارف د

عامولو او د منځنيو اجباري زده کړو د تأمين لپاره اغېزمن پروګرام وضع او تطبيق کړي او هر زده کوونکي ته د خپلې مورنۍ ژبې د تعليم او تدريس په موخه اغېزمن ګامونه واخلي.

**اته پنځوسمه ماده**

افغانستان د يو واحد تعليمي او تحصيلي نصاب او نظام لرونکی دی، تر ثانوي دورې پورې عام تعليمي نصاب پلی کېږي، چې د ديني او ورځنيو علومو برخې پکې شاملې دي، امارت/دولت مکلفيت لري چې د اسلامي مدارسو او ديني مراکزو لپاره يو واحد نصاب جوړ کړي.

**نهه پنځوسمه ماده**

اسلامي امارت/دولت مکلف دی چې د ښځو د ابتدايي، ثانوي او تخصصي زده کړو د توازن او پراختيا په منظور په هر اړخيزه توګه د اسلامي شريعت د احکامو مطابق ځانګړې پاليسي او اغېزمن پروګرامونه غوره کړي؛ تر څو په مختلفو برخو کې ښځينه متخصصين رامنځ ته شي او بېسوادي له منځه لاړه شي.

**شپېتمه ماده**

د لوړو، عمومي، اختصاصي او ديني زده کړو د مؤسسو جوړول او اداره کول د امارت دنده ده، د افغانستان اتباع او بهرني اشخاص کولای شي د امارت په اجازې د لوړو، عمومي، اختصاصي، ديني او د سواد د زده کړو د مؤسسو په جوړولو لاس پورې کړي.

د لوړو زده کړو په امارتي/ دولتي او خصوصي موسسو کې د شاملېدو شرطونه او نورې اړوندې چارې د قانون له لارې تنظيمېږي.

**يو شپېتمه ماده**

اسلامي امارت د متقاعدينو حقوق تضمينوي او د بېوزلو، شهيدانو، مفقودينو، خپلوانو، زړو. کونډو او يتيمانو او د اسلامي انقلاب د معلولينو او معيوبينو سره مرسته کول د امارت/دولت وجيبه ده.

**دوه شپېتمه ماده**

د هېواد ټول اتباع يوازې د اهليت، تخصص، کفايت، امانت او ديني فرايضو ته د التزام له مخې په دندو گمارل کېږي، دولتي ادارې د اړتيا له مخې او د امارت د مادي توان په پام کې نيولو سره تأسيسېږي.

**دري شپېتمه ماده**

اسلامي امارت/دولت د علم، فرهنگ، ادب او هنر د پرمختگ لپاره د اسلامي شريعت په چوکاټ کې اغېزمن پروگرامونه جوړوي، امارت د مؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمينوي، د علمي څېړنو او د هغو له نتايجو څخه اغېزمنه گټه اخيستنه هڅوي او د قانون له احکامو سره سم يې عاموي او نورې اړوندې چارې د قانون له لارې تنظيمېږي.

**څلور شپېتمه ماده**

د کار او کسب انتخاب د هر افغان حق دی، د کار د ساعتونو ټاکل او با معاشه رخصتي، د کار او کارگر حقوق او اړوندې چارې د قانون په وسيله تنظيمېږي.

**پنځه شپېتمه ماده**

جبري کار تحميل منع دی، جبري کار د جگړې، آفتونو او نورو هغو حالاتو کې چې د عامه خلکو ژوند او هوساينه تهديد شوې وي، د جبري کار جواز لري.

پر ماشومانو جبري کار جواز نه لري.

**شپږ شپېتمه ماده**

په اسلامي امارت کې ښېگڼو ته بلنه او له بدو منع کول (امر باالمعروف او نهی عن المنکر) د ټولو مسلمانانو دنده ده، امارت /دولت ددې چارې لپاره ځانگړې اداره جوړوي، چې شرايط، حدود او د کار څرنگوالی يې د قانون له لارې تنظيمېږي.

**اووه شپېتمه ماده**

اسلامي امارت/دولت مکلف دی چې د يوې سالمې ادارې او د هېواد په اداري سيستم کې د سمون په موخه لازم تدابير ونيسي، دولتي هره اداره خپل اجرأت په بشپړه بې طرفۍ د قانون د احکامو مطابق عملي کوي.

**اته شپېتمه ماده**

د افغانستان اتباع حق لري د قانون د احکامو په حدودو کې د دولتي ادارو څخه د نورو حقوقو او عامه امنيت ته له زيان رسولو پرته اطلاعات تر لاسه کړي او نورې چارې يې د اړوند قانون له لارې تنظيمېږي.

**نهه شپېتمه ماده**

هر څوک چې له دولتي او غير دولتي ادارې څخه بې موجبه زيانمن شي، د زيان د تر لاسه کولو لپاره په ذيصلاح محکمه کې دعوی اقامه کولی شي، نورې چارې د قانون له لارې تنظيمېږي.

**اويا يمه ماده**

اسلامي امارت/ دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره صحت ته پاملرنه کوي او د ناروغيو مخنيوی، د علاج وسايل او روغتيايي اسانتياوې د قانون د احکامو سره سم تأمينوي، خصوصي طبي خدمتونو او روغتيايي مرکزونو جوړولو او پراختيا لپاره امارت/دولت هڅه او ملاتړ کوي.

**يو اويا يمه ماده**

اسلامي امارت د سالمې بدني روزنې د پياوړتيا او د ملي او سيمه ايزو ورزشونو د پراختيا لپاره د اسلامي شريعت په چوکاټ کې لازم تدابير نيسي، نورې چارې د اړوند قانون له لارې تنظيمېږي.

**دوه اويا يمه ماده**

اسلامي امارت د مفقودينو، شهيدانو د ورثه و او پاتې کسانو، له معلولينو او معيوبينو سره د مالي مرستو او روغتيايي خدماتو د تنظيم لپاره د قانون د احکامو سره سم لازم تدابير نيسي او اړوند چارې د قانون له لارې تنظيمېږي.

**دري اويا يمه ماده**

په اسلامي نظام کې کورنۍ د ټولنې اساس او بنسټ جوړوي، اسلام د ټولنې د سلامتیا د اسلامي کورنۍ بنسټ بولي، امارت/ دولت د کورنۍ، د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تأمین، ماشومانو د روزنې او د اسلام مبارک دین له احکامو سره د مغایرو رسومو له منځه وړلو لپاره لازم تدابیر نیسي.

**څلور اویا یمه ماده**

له هېواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو وجیبه ده، د عسکرۍ مکلفیت د دورې د تېرولو شرطونه د قانون له لارې تنظیمېږي.

**پنځه اویا یمه ماده**

د اسلامي شریعت د احکامو او ددې اساسي اصولو د حکمونو پیروي، د قوانینو اطاعت او د عامه نظم او امنیت ساتل د افغانستان د ټولو خلکو وجیبه ده.

**شپږ اویا یمه ماده**

د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کېږي.

**اووه اویا یمه ماده**

اسلامي امارت/دولت په افغانستان کې د خارجي اتباعو حقوق او ازادي د اسلامي شریعت د احکامو سره سم تضمینوي او بهرنیان د بین المللي حقوقو د قواعدو په حدودو کې د افغانستان اسلامي امارت/دولت د قوانینو په رعایت مکلف دي.

**اته اویا یمه ماده**

اسلامي امارت/دولت په افغانستان کې د بشر حقوقو د رعایت، څارنې او ملاتړ لپاره د بشر حقوقو ځانګړې محکمه جوړوي، هر څوک کولای شي چې د خپلو اساسي حقوقو د نقض په صورت کې دې محکمې ته شکایت وکړي، د بشر حقوقو د ځانګړې محکمې د کار ډول د اړوند قانون له لارې تنظیمېږي.

**نهه اویا یمه ماده**

هېڅوک نه شي کولای چې په دې اساسي اصولو کې له راغلو ازادیو او حقوقو څخه د اسلامي شریعت د احکامو په نظر کې نیولو سره ناوړه استفاده وکړي او هم د هېواد د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ او ملي وحدت په ضد عمل وکړي.

## درېیم فصل

## د اسلامي فقهاوو عالي شورا

**اتیا یمه ماده**

د اسلامي فقهاوو عالي شورا په هېوا د کې تر ټولو لوړه مرجع ده.

**یو اتیا یمه ماده**

د اسلامي فقهاوو عالي شورا د افغانستان د اسلامي امارت د امیر المؤمنین د رهبریت لاندې د ولسمشر، سترې محکمې قاضي القضات او غړي، د اسلامي شورا مشر، او د امیر المؤمنین له خوا د هېواد د هر یو ولایت څخه یو تن د ټاکلو شرایطو په نظر کې نیولو سره تعینیږي جوړه ده.

**دوه اتیا یمه ماده**

د اسلامي فقهاوو د عالي شورا د غړو شرایط په لاندې ډول دي:

1. د شرعي علومو متخصص، فقهي عالم او کافي تجربه ولري.
2. د افغانستان تبعه، مسلمان، د افغاني مور او پلار څخه زیږېدلی او د بل هېواد تابعیت ونه لري.
3. د ښه سیرت او نېک شهرت لرونکی وي.
4. پنځه څلوېښت (۴۵) کاله عمر ولري.

**درې اتیا یمه ماده**

د رهبرۍ او امارت عالي مقام واکونه په لاندې توګه دي:

1. د اسلامي لښکر او وسله وال پوځ سر اعلی قوماندان.
2. د اسلامي فقهاوو د عالي شورا په تائید د جنګ او سولې اعلان.

3. د هېواد لوی څارنوال ټاکل.
4. په ټاکنو کې بریالي شوي ولسمشر ته سوګند ورکول.
5. په هېواد کې د عمومي ټاکنو لپاره د فرمان صادرول.
6. د افغانستان د اسلامي امارت د اساسي اصولو توشېح او لاسلیك كول.
7. د هېواد اساسي کرښو او خارجي پالیسي او شرعي سیاست ټاکل.
8. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د خپلواکې ادارې جوړول.
9. د هېواد د امنیت ساتلو په موخه د ملي امنیت مشترك نظامي اداره جوړول.
10. د مهاجرینو او بې ځایه شوو کسانو د چارو د سمون په موخه د خپلواکې ادارې جوړول.
11. د ولسمشر د استعفا منل او د اسلامي فقهاوو شورا د رأیو د یووالي په تائید سره عزل.
12. نور هغه صلاحیتونه چې د اسلامي فقهاوو د عالي شورا له لوري د رهبرۍ مقام او امیر ته ورکړل شي.

**څلور اتیا یمه ماده**

د اسلامي فقهاوو عالي شورا لاندې واکونه او دندې لري:

1. د سترې محکمې د غړو د منځ څخه یو تن د قاضي القضات په توګه د رأیو په اتفاق سره رهبرۍ مقام ته وروپېژني.
2. د رئیس جمهور، قاضي القضات او وزیرانو محاکمه کول.
3. د ولسمشرۍ او نورو ټولو انتخاباتو ته د وړ کاندیدانو تشخیصول او د انتخاباتو خپلواك کمیسیون ته یې معرفي کول.
4. د درې ګونو قواوو د اختلافاتو حل او فصل کول.
5. د افغانستان د اسلامي امارت د اساسي اصولو او نورو قوانینو د غموض او ابهام په صورت کې د هغې تفسیرول.
6. د اسلامي امارت د اساسي اصولو د تطبیق او نفاذ څخه څارنه کول.
7. د انتخاباتو څخه څارنه کول.

8. د رهبرۍ مقام په تائید د وسله وال پوځ او اسلامي لښکر د عالي رتبه قوماندانانو ټاکل او عزل.
9. د رهبرۍ مقام په تائید په بهرنیو هېوادونو کې د مستشارانو ټاکل.
10. د ښځو او نارینه وو بشري حقوقو ته د درناوي په موخه د اسلامي شریعت د احکامو په رڼاکې ددې اساسي اصولو په نظر کې نیولو سره د بشري حقوقو اسلامي قواعدو هر اړخیزه مجموعه چمتو کول.
11. د اسلامي فقهې د څېړنو او د دارالافتاء د خپلواکې ادارې جوړول.
12. د هېواد د رادیو او تلویزیون د مشر ټاکل.

**پنځه اتیا یمه ماده**

په هغه حالت کې کچېرې د اسلامي فقهاوو عالي شورا امیر د کاري چارو د دوام وړتیا ونه لري او یا هم د صعب العلاج په ناروغۍ اخته وي او یا د فوت کېدو په صورت کې د اسلامي فقهاوو د عالي شورا د غړو د رأیو په اتفاق سره یو تن د عالي مقام د امیر په توگه ټاکل کېږي.

**شپږ اتیا یمه ماده**

د اسلامي فقهاوو د عالي شورا مشرتوب د نوي رهبر او امیر تر ټاکلو پورې د سترې محکمې قاضي القضات کوي، ورپسې د اسلامي فقهاوو د عالي شورا د غړو د منځ څخه تر ټولو لوړ عمر لرونکی شخص د اسلامي فقهاوو د عالي شورا امیر د ټاکلو پورې مؤقتي مشر په توگه په ترتیب سره غوره کېږي.

**اووه اتیا یمه ماده**

د فقهاوو د عالي شورا د غړو د رأیو په اتفاق سره د اسلامي فقهاوو د عالي شورا امیر د ازادو، پټو او مستقیمو رأیو له لارې سره انتخابېږي.

## څلورم فصل

## ولسمشر

**اته اتیا یمه ماده**

ولسمشر د افغانستان اسلامي امارت د اجرائیه قوې مشر دی، چې خپل واکونه د اسلامي امارت د اساسي اصولو د احکامو سره سم په مقننه، اجرائیه او قضائیه قواوو کې پلي کوي.
ولسمشر یو مرستیال لري چې د رهبرۍ عالي مقام له لوري منظورېږي.

**نهه اتیا یمه ماده**

د اسلامي امارت لومړنی ولسمشر د هېواد د ولسونو د نماینده ګانو د اسلامي شورا له لوري د رأیو په اکثریت سره د څلورو کلونو لپاره د میاشتې په دویمه اونۍ کې د جمعې په ورځ د ازادو، پټو او مستقیمو رأیو له لارې د رأیو په اکثریت سره انتخابېږي.

**نوي یمه ماده**

د پارلمان د جوړېدو پورې نوی ټاکل شوی ولسمشر د اسلامي فقهاوو د عالي شورا او د سترې محکمې د غړو په حضور کې د رهبرۍ عالي مقام له لوري سوګند ورکول کېږي.

**یو نوي یمه ماده**

د ولسمشر د مړینې، صعب العلاج ناروغۍ او هغه معلولیت او معیوبیت چې دندو د اجراء مانع وګرځي، د هغې لومړی مرستیال ورپسې د ا سلامي فقهاوو د عالي شورا په تشخیص یو تن د مؤقتي ولسمشر په توګه په ترتیب سره د نوو انتخاباتو پورې غوره کېږي.

**دوه نوي یمه ماده**

ولسمشر د لاندې شرایطو لرونکی دی:

1. د افغانستان تبعه، مسلمان او د کاندیدېدو پر وخت یې عمر د څلوېښتو (۴۰) کلونو څخه اوښتی وي.
2. له افغان مور او پلار څخه پیدا شوی وي او هم د بل هېواد تابعیت ونه لري.

3. د با صلاحیته محکمې له لوري په جنایت، فسق او کبیره گناه نه وي محکوم شوی او هم د مدني حقوقو څخه محروم شوی نه وي.
4. د دیني فرایضو اداء کولو ته ملزم او شرعي احکامو او حدودو پلي کولو ته ژمن وي.

**درې نوي یمه ماده**

د ولسمشر شرایط د مرستیال او کابینې د غړو وزیرانو په اړه هم د تطبیق وړ دي.
هېڅوک تر دوو دورو زیات ولسمشر کېدای نه شي.

**څلور نوي یمه ماده**

ولسمشر د کار تر پیل د مخه د ځانگړې کړنلارې له مخې تحلیف او سوگند په لاندېنیو الفاظو تر سره کوي.

- بسم الله الرحمن الرحیم

د لوی الله تعالی په نامه لوړه کوم چې په خپل شخصي او اجتماعي ژوند کې به د اسلام د سپېڅلي دین د احکامو متابعت او ساتنه کوم، د اسلامي شریعت د احکامو، حدودو او ددې اساسي اصولو او د هېواد نورو قوانینو رعایت او د تطبیق څارنه به کوم، د ملي شتمنیو او د خلکو له لوري راکړل شوو صلاحیتونو کې به د پوره احتیاط او امانت سره تصرف کوم، د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه، د ولس د حقوقو او گټو حفاظت خپله اساسي دنده گڼم، هڅه به کوم چې د الله تعالی په مرسته او د ملت په ملاتړ د هېواد د پرمختگ او د خلکو د هوساینې په لار کې خپلې هلې ځلې تر سره کوم.

**پنځه نوي یمه ماده**

ولسمشر لاندې واکونه لري:

1. د وزیرانو د شورا او کابینې مشر توب
2. د هېواد اقتصادي اجتماعي پراختیا لپاره د پلانونو جوړول او د رهبرۍ عالي مقام ته راپور ورکول.
3. د رهبرۍ د عالي مقام د تائید وروسته د ملي بودیجې تصویبول.

4. د رهبرۍ عالي مقام له لوري د خارجي سیاست او بهرنۍ پالیسۍ پلي کول.
5. د پیسو د خپرولو اجازه ورکول.
6. د اختصاصي کمیسیونونو جوړول.
7. د رهبرۍ د عالي مقام په تائید د ولایاتو او ولسوالیو ایجاد او تنقیص.
8. د رهبرۍ د عالي مقام په تائید په بهرنیو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو کې د سیاسي نمائنده ګانو ټاکل.
9. د ملي وحدت استحکام، د هېواد خپلواکي او اسلامي هویت ساتنه او تمثیل.
10. د رهبرۍ د عالي مقام په تائید د اسلامي شریعت مطابق او ددې اساسي اصولو سره سم د تعزیري جزاګانو تخفیف او عفوه.
11. د هېواد د قوانینو، مقرراتو مطابق د اسلامي شریعت په رڼاکې د بین المللي معاهدو لاسلیکول.
12. د رهبرۍ د عالي مقام په تائید په هېواد کې د اضطراري حالاتو د پیل او پای اعلان.
13. د قانونه له احکامو سره سم د مډالونو، نښانونو او افتخاري لقبونو ورکول.
14. د رهبرۍ مقام په تائید د مرکزي بانک د رئیس ټاکل.
15. د هېواد د ادارې د سمون لپاره د قانون له مخې د کمیسیونونو جوړول.
16. په دې اساسي اصولو کې نور راغلي واکونه او دندې.

**شپږ نوي یمه ماده**

ولسمشر کولای شي چې د هېواد په مهمو ملي سیاسي، ټولنیزو او یا اقتصادي چارو کې د اسلامي فقهاوو د شورا په تائید د افغانستان د خلکو ټولپوښتنې ته مراجعه وکړي.

**اووه نوي یمه ماده**

ولسمشر په دې اساسي اصولو کې د راغلو واکونو د عملي کولو په برخه کې د افغانستان د خلکو لوړ مصلحتونه په پام کې نیسي، ولسمشر نه شي کولای چې د قانون له حکم پرته دولتي ملکیتونه او

شتمنۍ خرڅې او یا وبښي، ولسمشر نه شي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنیو، سیمه ایزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوظاتو ګټه واخلي.

**اته نوي یمه ماده**

ولسمشر په ټولو اداري، اجرائیوي او نورو اړوندو چارو کې د اسلامي شریعت احکامو او قانون ته ژمن ګڼل کیږي.

**نهه نوي یمه ماده**

په بشري ضد جرمونو، ملي خیانت، یا د جنایت په ارتکاب باندې د ولسمشر اتهام د اسلامي فقهاوو د شورا د رأیو په اتفاق غوښتل کېدای شي، د تائید په صورت کې د یوې میاشتې په داخل کې د هېواد عالي شورا دائرېږي او ولسمشر ته منسوب شوی اتهام له ټولو غړو له دریو څخه د دوو برخو د رأیو په اکثریت تصویب کړي، ولسمشر له دندې څخه ګوښه او موضوع ځانګړې محکمې ته چې د فقهاوو اسلامي شورا له دریو غړو، د سترې محکمې له دریو غړو، چې د عالي شورا له لوري ټاکل شوي دي او هم د عالي شورا له لوري د دعوې د اقامې لپاره یو شخص ټاکل کیږي او موضوع څېړل کیږي.

## پنځم فصل

## عالي شورا

**سلمه ماده**

د افغانستان د اسلامي امارت عالي شورا د هېواد تصمیم نیونکې شورا ده.

**یو سلو یومه ماده**

د عالي شورا جوړښت او ترکیب په لاندې توګه دی:

1. د اسلامي فقهاوو عالي شورا غړي.
2. د نفوسو په تناسب د هر ولایت څخه د (۱۰ ـ ۱۸) تنه غړي.
3. قاضي القضات او غړي.
4. لوی څارنوال او د لویې څارنوالۍ د شورا غړي.

5. وزيران.
6. واليان.
7. د اسلامي امارت د اساسي اصولو په سر د څارنې او د تطبيق د خپلواکې ادارې رئيس او غړي.
8. د هېواد نخبه علماوو، روحانيونو، سياسي، ټولنيز، علمي شخصيتونو او حقوق پوهانو څخه د رهبرۍ عالي مقام له لوري (۱۰۰) تنه ټاکل.

**يو سلو دويمه ماده**

د عالي شورا واکونه په لاندې ډول دي:

1. د اسلامي امارت د اساسي اصولو تصويب او تعديل.
2. د هېواد لومړی ولسمشر ټاکل.
3. بهرني هېواد ته د وسله وال پوځ د لېږد تائيدول.
4. د هېواد د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا، شرعي او ملي حاکميت او د هېواد د عليا مصالحو پورې د اړوندو چارو په اړه پرېکړه کول.

**يو سلو درېيمه ماده**

د عالي شورا مشر په لومړۍ غونډه کې د قاضي القضات په سرپرستۍ د شورا د غړو له منځه يو تن د رئيس، يو تن مرستيال، منشي او نائب منشي په توګه د ازادو، مستقيمو او پټو رأيو له لارې ټاکي.
د عالي شورا ټولې پرېکړې د رأيو په اکثريت سره دي.

**يو سلو څلورمه ماده**

د عالي شورا ټول بحثونه علني دي، مګر دا چې د غړو څلورمه برخه يې د پټوالي غوښتنه وکړي او د شورا د اکثريت غړو له لوري تائيد شي.

## شپږم فصل

## حکومت

### یو سلو پنځمه ماده

حکومت د هېواد اجرائیه قوه ده چې د کابینې د وزیرانو څخه جوړه شویده، ولسمشر د کابینې رئیس دی.

### یو سلو شپږمه ماده

وزیران د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي او د تائید او اعتماد لپاره ملي شورا ته معرفي کېږي، د وزیرانو شمېر او دندې د قانون له لارې ټاکل کېږي.

### یو سلو اوومه ماده

هغه څوک چې د وزیر په توګه ټاکل کېږي باید لاندې شرطونه ولري:

1. د افغانستان تبعه، مسلمان، افغاني مور او پلار نه زېږېدلی او د بل هېواد تابعیت ونه لري.
2. پنځه دېرش (۳۵) کاله عمر ولري.
3. د لوړو زده کړو لرونکی، کاري تجربه او نېک شهرت ولري.
4. د محکمې له خوا په خیانت او بشري جرمونو او د جنایت په ارتکاب محکوم شوی نه وي او هم له مدني حقوقو څخه نه وي محروم شوی.

### یو سلو اتمه ماده

وزیر د وظیفې له پیل مخکې د ولسمشر په وړاندې په لاندې الفاظو لوړه کوي:

بسم الله الرحمن الرحیم: د لوی الله تعالی په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دین د احکامو متابعت، حمایت، ددې اساسي اصولو او د افغانستان د نورو قوانینو رعایت، د اتباعو د حقوقو ساتنه، د افغانستان د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او د خلکو د ملي وحدت ساتنه وکړم، په خپلو ټولو اعمالو کې الله ﷻ حاضر وګڼم او خپلې راسپارل شوې وظیفې د الله تعالی په مرسته د مسؤلیت له مخې په رښتینولۍ سرته رسوم.

**یو سلو نهمه ماده**

د حکومت دندې په لاندې توګه دي:

1. ددې اساسي اصولو او نورو قوانینو او د محکمو د قطعي پرېکړو عملي کول، د هېواد له خپلواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا، اسلامي هویت څخه دفاع او په بین المللي ټولنه کې د افغانستان د حیثیت او عزت ساتنه.
2. د کلنۍ بودیجې ترتیبول، د مالي چارو اداره، د هېواد د اقتصادي، فرهنګي، اجتماعي او تکنالوژیکي پراختیا او انکشاف لپاره پروګرامونه طرح او ترتیبول.
3. د هېواد ټولو مالي زېرمو نه سمه استفاده کول، ډاډمن او با اعتباره مالي نظام رامنځ ته کول، د هېواد د عامه نظم او امن تأمینول او د هر راز اداري فساد له منځه وړل.
4. ملي شورا ته د مالي کال په پای کې د سرته رسېدلو چارو او د نوي مالي کال د مهمو پروګرامونو په اړه ګذارش ورکول.
5. د نورو هغو دندو تر سره کول چې ددې اساسي اصولو او نورو قوانینو له مخې د حکومت د دندو څخه شمېرل شوي دي.

**یو سلو لسمه ماده**

حکومت د هېواد د سیاست د اسلامي فقهاوو د عالي شورا له لوري د تائید شوو اړوندو بهرنیو اساسي کرښو د تطبیق او د خپلو وظیفو د تمویل لپاره مقررات وضع او تصویبوي، چې ددې اساسي اصولو د متن سره تناقض ونه لري.

**یو سلو یوولسمه ماده**

وزیران خپلې دندې د اداري واحدونو د آمرینو په توګه په هغو حدودو کې چې دا اساسي اصول او نور قوانین یې ټاکي سرته رسوي، وزیران د خپلو ټاکلو دندو څخه د ولسمشر او ملي شورا په وړاندې مسؤلیت لري.

**يو سلو دولسمه ماده**

که چېرې وزير په بشري ضد جرمونو، ملي خيانت او يا په نورو جرمونو متهم شي، موضوع ددې اساسي اصولو له مخې ځانګړې محکمې ته راجع کېږي.

**يو سلو ديارلسمه ماده**

ولسمشر د حکومت د رئيس په توګه د ملي شورا د تعطيل په حالت کې له بوديجوي او مالي چارو پرته د بېړنۍ اړتيا په اساس تقنيني فرمانونه ترتيب او توشيح کوي، د ملي شورا د لومړۍ غونډې له جوړېدو وروسته د دېرشو (۳۰) ورځو په اوږدو کې د ملي شورا تائيد تر لاسه کوي او د رد په صورت کې خپل باور له لاسه ورکوي.

**يو سلو څوارلسمه ماده**

وزيران نه شي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنيو، سيمه ايزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوظاتو ګټه واخلي.

**يو سلو پنځه لسمه ماده**

وزيران او د دولت لوړ پوړي مامورين نه شي کولای د خپل ماموريت په دوران کې په شخصي، تجارتي او اقتصادي دندو بوخت شي، د دولت يا خصوصي شرکتونو سره د اخيستلو او خرڅولو معامله وکړي او هديه او تحفې تر لاسه کړي.

## اووم فصل

## ملي شورا

**يو سلو شپاړلسمه ماده**

د افغانستان اسلامي امارت ملي شورا د ستر تقنيني ارګان په توګه د خلکو د ارادې ښکارندوی دی او د ټول ملت نمائنده ګي کوي، د ملي شورا هر غړی د رأيې د ښکاره کولو په وخت کې د هېواد او خلکو عمومي مصالح او عليا منافع په نظر کې نيسي.

**یو سلو اووه لسمه ماده**

ملي شورا د دوه مجلسونو ولسي جرګې او سنا مجلس څخه جوړه ده، هېڅوک نه شي کولای چې په یو وخت کې د دواړو مجلسونو غړی وي.

**یو سلو اته لسمه ماده**

د ولسي جرګې غړي د خلکو د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له لارې انتخابیږي، د ولسي جرګې د کار دوره د څلورم کال د حمل د میاشتې په لومړۍ نېټه پای ته رسیږي او نوې شورا په کار پیل کوي. د ملي شورا د غړو انتخابات د دېرشو (۳۰) ورځو څخه تر شپېتو (٦۰) ورځو پورې تر سره کیږي. د ملي شورا او ولسمشرۍ ټاکنې هم مهاله او یو ځای تر سره کیږي.

**یو سلو نولسمه ماده**

ټول هېواد یوه انتخاباتي حوزه ده او هر مستحق افغان د هېواد په هر ګوټ ګوټ کې رأیه ورکولای شي، د انتخاباتو اړوندې چارې د قانون له لارې تنظیمیږي.

**یو سلو شلمه ماده**

د ملي شورا د غړو شرایط په لاندې ډول دي:

1. د افغانستان تبع، مسلمان او د افغان مور او پلار څخه زیږېدلی او د بل هېواد تابعیت ونه لري.
2. د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو جنایت په ارتکاب محکوم نه وي او یا له مدني حقوقو څخه محروم شوی نه وي.
3. د لوړو زده کړو لرونکي وي.
4. د کاندیدېدو په ورځ عمر یې د دېرشو (۳۰) کلونو څخه کم نه وي.
5. په ټولنه کې د ښو اخلاقو شهرت لرونکی وي او هم په خپله سیمه کې با نفوذه شخصیت وي.

**یو سلو یو ویشتمه ماده**

د ملي شورا غړي په لاندې توګه سوګند اجراء کوي:

بسم الله الرحمن الرحيم: د الله تعالی په نامه لوړه کوم، چې اسلامي شریعت او د هېواد د اساسي اصولو او نورو قوانینو ته درناوی، رعایت او تطبیق او څارنه کوم، د ولس د حقوقو نه دفاع او د ملت له لوري راسپارل شوې دنده په بشپړ امانت او تقوا تر سره کوم، په خپلو وینااوو، لیکنو او اظهاراتو کې د یو امین وکیل په توګه عمل کوم او د هېواد او ولس ګټې په پام کې نیسم او په ټول صداقت او اخلاص سره د خپلو مسؤلیتونو د اداء کولو هڅه کوم.

**یو سلو دوه ویشتمه ماده**

ولسي جرګه او سنا مجلس د کار په پیل کې د یوې بشپړې دورې لپاره خپل رئیس، لومړی او دویم نائب منشي او نائب د رأیو په اکثریت سره غوره کوي، د ولسي جرګې او سنا مجلس نورې چارې د اړوند قانون او لوایحو له مخې تنظیمېږي.

**یو سلو درې ویشتمه ماده**

د سنا مجلس غړي په لاندې ډول انتخاب او ټاکل کېږي:

1. د هرې ولایتي جرګې له غړو څخه یو تن د اړوندې جرګې د غړو په انتخاب.
2. د هر ولایت د ولسوالیو د جرګو له غړو څخه یو تن د اړوندې جرګې د غړو په انتخاب.
3. د سنا مجلس نور غړي د اسلامي فقهاوو د عالي شورا مشر له خوا د هېواد د علماوو، خبیرو او تجربه لرونکو اشخاصو څخه.

**یو سلو څلور وېشتمه ماده**

د ملي شورا دواړو مجلسونو څخه هر یو د بحث وړ موضوعاتو د کتنې لپاره د داخلي وظایفو د اصولو له مخې کمیسیونونه جوړوي.

د ملي شورا واکونه:

1. د قوانینو، تقنیني فرامینو، تصویب، تعدیل او لغوه کول.
2. د اقتصادي فرهنګي، اجتماعي او تکنالوژیکي پرمختیایي پروګرامونو تصویبول.
3. د دولتي بودیجې تصویبول او د پور اخیستلو او ورکولو اجازه.

4. له هر یو وزیر څخه ددې اساسي اصولو په رڼا کې استیضاح کول او د عدم قناعت په صورت کې د رأیو په اکثریت سره د وزیر سلب اعتماد کول.
5. د ملي شورا دواړو مجلسونو څخه هر یو کمیسیون کولای شي چې په ټاکلو موضوعاتو کې د وزیر څخه پوښتنې وکړي.

**یو سلو پنځه ویشتمه ماده**

که چېرې د ځینو عواملو له مخې د مالي کال تر پیل مخکې بودیجه تصویب نه شي، د نوې بودیجې تر تصویب پورې د تېر کال بودیجه تطبیقېږي، حکومت د مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې د راتلونکي کال بودیجه د روان کال د بودیجې له اجمالي حساب سره ملي شورا ته وړاندې کوي، د تېر مالي کال د بودیجې قطعي حساب د راتلونکي کال د شپږو میاشتو په اوږدو کې د قانون له احکامو سره سم ملي شورا ته وړاندې کېږي، ولسي جرګه نه شي کولای د بودیجې تصویب د یوې میاشتې څخه زیات او د پور اخیستلو او ورکولو اجازه کوم چې په بودیجه کې شامل نه وي؛ تر پنځلسو (۱۵) ورځو زیات وځنډوي، که چېرې ولسي جرګه په دغه موده کې د پور د اخیستلو او ورکولو د پېشنهاد په هکله تصمیم ونه نیسي، پېشنهاد تصویب شوی ګڼل کېږي.

**یو سلو شپږ ویشتمه ماده**

که چېرې د ملي شورا په اجلاس کې کلنۍ بودیجه یا پرمختیایي پروګرام یا د عامه امنیت د هېواد د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا سره مربوط موضوع تر خبرو لاندې وي، د شورا د اجلاس موده د هغه تر تصویب مخکې پای ته نشي رسېدلی.

**یو سلو اووه ویشتمه ماده**

که چېرې د یوې جرګې مصوبه د بلې جرګې له خوا رد شي، د اختلاف د له منځه وړلو لپاره د دواړو جرګو د غړو له خوا په برابر شمېر ګډ هیئت ټاکل کېږي، د هیئت پرېکړه د ولسمشر تر توشېح وروسته نافذه ګڼل کېږي، که ګډ هیئت ونه کړای شو، د نظر اختلاف له منځه یوسي، تصویب رد شوی ګڼل کېږي، که چېرې تصویب د ولسي جرګې له خوا شوی وي، ولسي جرګه کولای شي په خپله وروستۍ غونډه کې هغه د خپلو غړو د رأیو په اکثریت تصویب کړي، دا تصویب بې له دې

چې سنا مجلس ته وړاندې شي، د ولسمشر د توشیح وروسته نافذ ګڼل کیږي، که چېرې د دواړو جرګو تر منځ اختلاف د مالي قوانینو د طرح په باب او ګډ هیئت یې په حل بریالی نه شي، ولسي جرګه کولای شي نوموړې طرح د غړو د رأیو په اکثریت تصویب کړي، دا طرح بې له دې چې مشرانو جرګې ته وړاندې شي د ولسمشر تر توشیح وروسته نافذه ګڼل کیږي.

**یو سلو اته ویشتمه ماده**

د ملي شورا هېڅ غړی د هغې رأیې یا نظر له امله چې د وظیفې د اجراء په وخت کې څرګندوي، تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کیږي.

**یو سلو نهه ویشتمه ماده**

که چېرې د ملي شورا کوم غړی په یوه جرم متهم شي، مسؤل مامور له موضوع څخه هغې جرګې ته چې متهم یې غړی دی، خبر ورکوي او متهم تر عدلي تعقیب لاندې راتلای شي.

**یو سلو دېرشمه ماده**

د مشهود جرم په مورد کې، مسؤل مامور کولای شي متهم د هغې جرګې له اجازې پرته چې دی یې غړی دی؛ تر عدلي تعقیب لاندې راولي او ویې نیسي. په دواړو حالاتو کې که چېرې عدلي تعقیب د قانون له مخې د توقیف ایجاب وکړي، مسؤل مامور مکلف دی چې له موضوع څخه بې له ځنډه نوموړې جرګې ته خبر ورکړي او د هغه تصویب تر لاسه کړي. که اتهام د شورا د رخصتۍ په وخت کې رامنځ ته شي، د نیولو او توقیف اجازه د اړوندې جرګې له اداري هیئت څخه تر لاسه کیږي او موضوع د نوموړې جرګې لومړنۍ غونډې ته د تصمیم نیولو لپاره وړاندې کیږي.

**یو سلو یو دېرشمه ماده**

د ملي شورا ټولې غونډې علني دي، مګر دا چې د ملي شورا غړو لسمه برخه یې د پټوالي غوښتنه او د جرګې اکثریت ورسره موافقه وکړي، د ولسي جرګې د غونډو نصاب د ټولو غړو دوه ثلثه او د پرېکړو نصاب یې د حاضرو غړو اکثریت دی.

**يو سلو دوه دېرشمه ماده**

د ملي شورا د غړي د مړينې، استعفاء، عزل او صعب العلاج ناروغۍ په صورت کې د پاتې مودې لپاره نوی استازی د قانون د احکامو سره سم ټاکل کېږي.

**يو سلو درې دېرشمه ماده**

د ملي شورا غړي د غونډو په يوې دورې کې د پنځلسو پرله پسې ورځو غير قانوني غير حاضرۍ په صورت کې د همدې دورې د مالي حقوقو او امتيازاتو څخه محرومېږي، که چېرې دا غير حاضري د غير معقول عذر پرته تر يوې مياشتې پورې وغځېږي، نو په ملي شورا کې عضويت له لاسه ورکوي.

**يو سلو څلور دېرشمه ماده**

ملي شورا نه شي کولای چې د هېواد له رسمي مذهب او ددې اساسي اصولو سره مغاير قوانين او اصول وضع او تصويب کړي.

**يو سلو پنځه دېرشمه ماده**

ملي شورا په هر کال کې دوه عادي غونډې دائروي، د ملي شورا د دواړو جرګو د غونډو د کار موده په هر کال کې نهه مياشتې ده، د اړتيا په وخت کې شورا کولای شي دا موده اوږده کړي، د رخصتۍ په ورځ کې د ملي شورا فوق العاده غونډې د ولسمشر په امر دائرېدای شي.

## اتم فصل

## قضاء

**يو سلو شپږ دېرشمه ماده**

قضائيه قوه د افغانستان د اسلامي امارت خپلواک رکن دی، چې دنده يې د اسلامي شريعت د احکامو او حدودو تنفيذ، د عدالت تأمين، د فرد او ټولنې څخه دفاع، د قوانينو په اجراء نظارت او څارنه، د جرمونو کشف او د مجرمينو تعقيب او مجازاتو د جرمونو د مخنيوي او د محکومينو اصلاح او تربيت دی.

**یو سلو اووه دېرشمه ماده**

قضائیه قوه د یوې سترې محکمې، د استیناف او ابتدائیه محکمو څخه جوړه ده، اړوندې نورې چارې یې د قانون له لارې تنظیمیږي.

**یو سلو اته دېرشمه ماده**

ستره محکمه د ستر قضایي ارګان په توګه د افغانستان د اسلامي امارت د قضائیه قوې په سر کې واقع ده. ستره محکمه یوولس (۱۱) تنه غړي لري، چې د اوو کلونو لپاره د اسلامي فقهاوو د عالي شورا له خوا د غوره کېدو وروسته ولسمشر ته وړاندې کیږي.

**یو سلو نهه دېرشمه ماده**

د سترې محکمې غړي باید لاندې شرایط ولري:

1. د افغانستان تبع، مسلمان، نارینه، د افغاني مور او پلار څخه زیږېدلی او د بهرني هېواد تابعیت ونه لري.
2. پنځه څلوېښت (۴۵) کاله عمر ولري.
3. د شرعي، فقهي او حقوقي علومو لوړو زده کړو لرونکی، په قرآن کریم او نبوي حدیثو پوهه، د افغانستان په قضایي او شرعي نظام کې تخصص او کافي تجربه ولري.
4. د ښه سیرت او نېک شهرت لرونکی وي.
5. د محکمې له خوا د جنایت، فساد او خیانت په جرمونو مرتکب او محکوم نه وي او له مدني حقوقو محروم نه وي، د وظیفې د تصدی په مهال په هېڅ سیاسي ګوند کې غړیتوب ونه لري.

**یو سلو څلوېښتمه ماده**

د سترې محکمې غړي د وظیفې له پیل نه مخکې د ولسمشر پر وړاندې لاندې لوړه کوي:

بسم الله الرحمن الرحیم: د لوی الله تعالی په نامه لوړه کوم چې د اسلامي شریعت له حکمونو او د اساسي اصولو د غوښتنو سره سم به حق او عدالت تأمینوم او په ټولو قضایاوو کې به د اسلامي

شریعت احکامو او حدودو تطبیق او ددې اساسي اصولو په رڼا کې قضاوت کوم، د قضاء سپېڅلې دنده به په بشپړ امانت، صداقت او بې طرفی اجراء کوم.

**یو سلو یو څلوېښتمه ماده**

قضائیه قوه د امارت په شمول د حقیقي او حکمي اشخاصو له خوا د مدعي او مدعي علیه په حیث د قانون له حکمونو سره سم د محکمې پر وړاندې ټولو اقامه شوو دعواوو ته رسیده ګي کوي.

**یو سلو دوه څلوېښتمه ماده**

قضائیه قوه د هر هغې پرېکړې، مقررې، لایحې، چې د اسلامي شریعت د احکامو مخالف وي او یا هم د افغانستان د اتباعو حقوق یې تر پښو لاندې کړې وي لغوه او باطلوي.

**یو سلو درې څلوېښتمه ماده**

د قاضیانو حقوق او وجایب او نورې اړوندې چارې د قانون له مخې تنظیمېږي، د اداري کار کوونکو او مامورینو چارې د امارت د مامورینو اړوند قوانین او احکام تطبیقېږي.

**یو سلو څلور څلوېښتمه ماده**

د قضائیه قوې بودیجه د حکومت په مشوره د سترې محکمې له خوا ترتیبېږي او د امارت د بودیجې د یوې برخې په توګه د حکومت له خوا ملي شورا ته وړاندې کېږي، د قضائیه قوې د بودیجې ترتیب د سترې محکمې صلاحیت دی.

**یو سلو پنځه څلوېښتمه ماده**

د سترې محکمې غړي د خدمت د دورې تر سرته رسېدو وروسته، د پاتې ژوند په اوږدو کې د خدمت د دورې له مالي حقوقو څخه برخمن کېږي، په دې شرط چې په دولتي او سیاسي چارو بوخت نه شي.

**یو سلو شپږ څلوېښتمه ماده**

د سترې محکمې رئیس او غړو محاکمه او مجازات ددې اساسي اصولو په نظر کې نیولو سره د اسلامي فقهاوو د عالي شورا په واک کې ده.

**یو سلو اووه څلوېښتمه ماده**

د افغانستان په محکمو کې محاکمه په علني ډول دائرېږي او هر څوک حق لري د قانون له حکمونو سره سم په هغه کې ګډون وکړي، محکمه کولای شي په هغو حالاتو کې چې په قانون کې څرګند شوي او یا د محاکمې سري توب اړین وګڼل شي، پټې غونډې دایرېږي؛ خو د حکم اعلان علني دی.

**یو سلو اته څلوېښتمه ماده**

محکمه مکلفه ده د خپل صادر کړي حکم اسباب په فیصله کې ذکر کړي، د محکمو د ټولو قطعي فیصلو عملي کول واجب دي؛ خو د یو شخص د وژلو او اعدام د حکم په حالت کې د ولسمشر منظوري شرط ده.

**یو سلو نهه څلوېښتمه ماده**

قاتل او ضارب له مظلوم او د مقتول د ورثه وو پرته هېڅوک نه شي ببښلی. په هېڅ صورت کې حدود نه شي معاف کېدای.

**یو سلو پنځوسمه ماده**

د افغانستان د اسلامي امارت ټولې محکمې په ټولو هغو قضایاوو کې چې ورته راجع شوي دي؛ د اسلامي شریعت احکام او شرعي حدود پلي کوي، په حقوقي او جزایي برخو کې د حنفي فقهې مطابق پرېکړې کوي، محکمه په حقوقي او احوال شخصیه منازعاتو او موضوعاتو کې که چېرې د قضیې اړوند لوري د نورو مذهبونو پیروان وي، د طرفینو په غوښتنه د نورو اسلامي مذاهبو پر بنسټ د شخړې د حل وفصل په اړه پرېکړه کوي.

**یو سلو یو پنځوسمه ماده**

قاضیان د سترې محکمې په وړاندیز او د ولسمشر په منظورۍ ټاکل کېږي، د قاضیانو د تقرر تبدیل، ترفیع، تقاعد او مؤخذې پرېکړه د سترې محکمې صلاحیت دی.

**یو سلو دوه پنځوسمه ماده**

که قاضي په جنايت متهم شي، قضيه د سترې محکمې له لوري څېړل کېږي، د جرم د اثبات په صورت کې ولسمشر ته د نوموړي قاضي د عزل وړانديز کېږي او له عزل وروسته له قانون سره سم مجازات کېږي.

**یو سلو درې پنځوسمه ماده**

د جرمونو کشف د پوليسو په وسيله او د جرمونو تحقيق او په محکمه کې پر متهم باندې د دعوې اقامه د څارنوال له خوا د قانون احکامو سره سم صورت نيسي.

**یو سلو څلور پنځوسمه ماده**

څارنوالي د اجرائيه قوې برخه ده او په خپلو اجرأتو کې خپلواکي لري، د څارنوالۍ تشکيل، صلاحيت، او د اجرأتو څرنګوالی د قانون له لارې تنظيمېږي.

**یو سلو پنځه پنځوسمه ماده**

د وسله والو ځواکونو، پوليسو. او د استخباراتو ملي امنيت کار کوونکو د وظيفوي جرمونو کشف او تحقيق د خاص قانون له لارې تنظيمېږي.

**یو سلو شپږ پنځوسمه ماده**

که د دعوې لوري په خپله مورنۍ ژبه د قضيې د مواردو او اسنادو د پوهېدو او اطلاع د تر لاسه کولو باندې نه پوهېږي، محکمه د هغه لپاره ژباړن ټاکي.

**نهم فصل**

**اداره**

**یو سلو اووه پنځوسمه ماده**

د افغانستان د اسلامي امارت اداري نظام مرکزي او محلي برخې لري، مرکزي اداره په ځينو اداري واحدونو تقسيمېږي چې د هرې يوې په سر کې يو وزير وي. د محلي ادارې واحد ولايت دی، د ولايتونو او مربوطه ادارو شمېر، ساحه، برخې او تشکيلات د نفوسو د شمېر، ټولنيز او اقتصادي وضعې او جغرافيايي موقعيت په اساس د قانو ن له لارې تنظيمېږي.

**يو سلو اته پنځوسمه ماده**

حکومت د مرکزيت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي چارو د چټکوالي، ښه والي او د هېوادني ژوند په پرمختګ کې د خلکو د لا زياتې ونډې اخيستلو په منظور لازم صلاحيتونه د قانون له احکامو سره سم محلي ادارې ته سپاري.

**يو سلو نهه پنځوسمه ماده**

په هر ولايت کې يوه منتخبه ولايتي شورا جوړېږي؛ چې د ولايت د نفوسو د شمېر په تناسب به يې د غړو شمېر لږ تر لږه د ولسواليو شمېر په اندازه او زيات نه زيات شمېر يې دوه برابره وي، چې د ازادو عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له مخې د ولايت د اوسېدونکو له خوا د څلورو کلونو لپاره انتخابېږي، ولايتي شورا له خپلو غړو څخه يو تن د رأيو په اکثريت د رئيس په توګه د يو کال لپاره انتخابوي.

**يو سلو شپېتمه ماده**

د ولايتي شورا دندې په لاندې ډول دي:

- ولايت په چارو کې والي او ولايتي چارواکو ته مشوره ورکول.
- د ولايتي پرمختيايي پلانونو او پروګرامونو د چارو د ښه کېدو په تأمين کې څارنه کول.
- د ولايتي ادارې سره په هر اړخيزه توګه د چارو په بهبود کې مرسته کول.

**يو سلو يو شپېتمه ماده**

د محلي ادارې د چارو د سمون او د خلکو د فعالي ونډې په اخيستلو د تأمين په هدف په ولسواليو او کليو کې د قانون د احکامو سره سم د ازادو عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له مخې د سيمې اوسېدونکو له خوا شوراګانې جوړېږي.

**يو سلو دوه شپېتمه ماده**

په محلي شوراګانو کې د کوچيانو ګډون د قانون له حکمونو سره سم تنظيمېږي، د ولسواليو او د کليو شوراګانو له خپلو غړو څخه يو تن د رأيو په اکثريت د رئيس او مرستيال په توګه ټاکي.

### یو سلو درې شپېتمه ماده

د ښاري چارو د تنظیم او اداري لپاره ښاروالۍ تشکیلیږي، چې د ښاري مجلسونو د غړو له خوا د ازادو عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو له لارې ښاروال د یو کال لپاره ټاکل کیږي، په ښاروالۍ پورې مربوطې چارې د اړوند قانون له لارې تنظیمیږي.

## لسم فصل

## اضطراري حالات

### یو سلو څلور شپېتمه ماده

که چیرې پر هېواد برید، لوی اغتشاش او طبیعي افاتو او یا ورته حالت له امله د هېواد د خپلواکۍ او هېوادني ژوند ساتنه او د امارت عادي اجرأت او د قانون پلي کول په ټول هېواد او یا د هېواد په یوه برخه کې ناشونې وګرځي، د اسلامي فقهاوو د مجلس په تائید د هېواد په ټولو او یا ځینو برخو کې اضطراري حالت اعلا نیږي، که اضطراري حالت تر دوو میاشتو زیات دوام وکړي، د تمدید په صورت کې د اسلامي فقهاوو د شورا موافقه شرط ده.

### یو سلو پنځه شپېتمه ماده

په اضطراري حالاتو کې ولسمشر کولای شي د اسلامي فقهاوو د شورا او د سترې محکمې د رئیسانو سره په مشوره ځینې صلاحیتونه حکومت ته انتقال شي، چې عبارت دي له: د محکمې له حکم پرته د شکمنو اشخاصو نیول، توقیف، تحقیق، د استوګنځي پلټل او په مخابراتو او مراسلاتو نظارت کول، په غونډو او مظاهرو باندې بندیز لګول، د ځانګړو څارنوالیو او د محکمو تأسیسول.

### یو سلو شپږ شپېتمه ماده

که چیرې د ولسمشرۍ دوره او یا د ملي شورا تقنیني دوره د اضطرار په حالت کې پای ته ورسیږي، د نوو انتخاباتو تر سره کېدل ځنډیږي او د ولسمشر او ملي شورا د غړو د خدمت موده تر څلورو نورو میاشتو پورې تمدیدیږي، که اضطراري حالات تر څلورو میاشتو زیات اوږد شي، عالي شورا راغوښتل کیږي او د ا ضطراري حالاتو د پای ته رسېدو وروسته د دوو میاشتو په دننه کې ټاکنې تر سره کیږي.

## یوولسم فصل

## تعدیل

### یو سلو اوه شپېتمه ماده

د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو څخه پیروي او د اسلامي امارت نظام نه تعدیلېږي. د اتباعو د اساسي حقوقو تعدیل یوازې د هغو د حقوقو د ښېګڼې په منظور جواز لري.

### یو سلو اته شپېتمه ماده

د اسلامي فقهاوو عالي شورا اړوند احکام د تعدیل وړ نه دي.

ددې اساسي اصولو د نورو موادو تعدیل د وخت د غوښتنو او تجربو له مخې د هېواد د عالي شورا له لوري د رأیو په اکثریت سره تعدیلېږي.

## دولسم فصل

## متفرقه احکام

### یو سلو نهه شپېتمه ماده

ولسمشر، مرستیال، وزیران، د سترې محکمې رئیس او غړي او د امارت نور لوړ پوړي چارواکي د خپلې وظیفې په وخت کې نه شي کولای له امارت او اشخاصو سره هېڅ ډول انتفاعي معاملې او نورې دندې نه شي تر سره کولای، هغه معاملې چې د شخصي اړتیاوو د تأمین په منظور تر سره کېږي له دې حکم څخه مستثنی دي.

### یو سلو اویا یمه ماده

قاضیان، څارنوالان، د وسله والو ځواکونو، د پولیسو منصبداران او د ملي امنیت کار کوونکي نه شي کولای د دندې د تصدی په موده کې په سیاسي ګوندونو کې غړیتوب ولري.

### یو سلو دوه اویا یمه ماده

ولسمشر مرستیال، وزیران او د سترې محکمې د غړو شتمني د خدمت تر دورې وړاندې او وروسته د هغه ځانګړي ارګان په واسطه چې قانون یې ټاکي ثبت، څېړل او خپرېږي.

**یو سلو درې اویا یمه ماده**

ولسمشر، مرستیال، وزیران، د ملي شورا، د سترې محکمې، د اسلامي فقهاوو د عالي شورا رئیسانو او غړو ته د قانون د احکامو سره سم مناسب معاش ټاکل کېږي.

**یو سلو څلور اویا یمه ماده**

د بهرنیانو د ټولو یرغلگرو (انگرېزان، روسان، امریکایان) د یرغل ورځې او د یرغلگرو څواکونو د هېواد د ازادۍ ورځې به د تاریخي ورځو په توگه لمانځل کېږي، په دغو ورځو کې به د ملي رخصتۍ پرته ځانگړي مراسم اجراء کېږي.

**یو سلو پنځه اویا یمه ماده**

د افغانانو ملي لباس د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې تعینېږي.

**یو سلو شپږ اویا یمه ماده**

د انجونو او هلکانو مختلط تعلیمي او تحصیلي نظام پر ځای د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې جلا ځانگړی تعلیمي او تحصیلي نظام رامنځ ته کېږي، چې نورې چارې یې د قانون له لارې تنظیمېږي.

**یو سلو اووه اویا یمه ماده**

د افغانستان په اسلامي امارت کې مسجد یواځینی سپېڅلی مذهبي مقام دی، چې ټول ولس ورته په درناوي او احترام مکلف دی، خطیب او امام په دیني او اجتماعي چارو کې ولس ته شرعي احکامو لارښوونې مسؤلیت لري.

**یو سلو اته اویا یمه ماده**

د انتخاباتو د تر سراوي لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون جوړېږي، چې نورې چارې یې د قانون له لارې تنظیمېږي.

**یو سلو نهه اویا یمه ماده**

د افغانستان د اسلامي امارت اساسي اصول د اسلامي فقهاوو د عالي شورا په پیشنهاد او د اسلامي شورا په تصویب د افغانستان د اسلامي امارت امیر لخوا توشیح اعلامیږي، نافذیدو سره یې ددې اساسي اصولو له احکامو مغایر، قوانین او تقنیني فرمانونه لغوه کیږي.

ومن الله التوفیق